# نا کامه





لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر


پیخلیک: سلواغه / کال ۱۴۰۶ ایږدی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناکامه مینه**

................

**ليکي پوهه:**

**سرليک:** **ناکامه مينه**

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ايډيټور:**

**د پښتنی ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** سلواغه / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د کټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سرلیک چوپړی

پختې............................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحيم.............................................. ۲
لیکي پوهه:........................................................... ۳
لړلیک................................................................ ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید) ............................................ ٥
د یادښتونو له پاره:.................................................. ۷
تراڼ (پیل، شروع، برید):............................................. ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست ........................................ ٤۹
د کار لاندې کتابونو لېست......................................... ٥٤
د امکان او وخت په صورت کې..................................... ٥٥
د پختې څښتن ...................................................... ٥٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناکامه مینه**

.................

**ترانې (پیل، شروع، برید)**

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ إجْلاَلاً لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللّهُ خُضوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانی او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدايښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړی موجودیت، د ناځاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهی او بې وسی یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې ننګرهار ولایت کې پیل شوی بیا کابل ولایت ته غزېدلی ده د خپلو ملګرو او کتابونو مینه والو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دبته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونې:**

- د نظر تېولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.
- د پښتۍ انځور د انټرنټ څخه اخیستل شوی دی.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکامه مینه

.................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ................................................................

۲- ................................................................

۳- ................................................................

۴- ................................................................

۵- ................................................................

۶- ...............................................................

۷- ...............................................................

۸- ................................................................

۹- ...............................................................

۱۰- .............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

**تراڼ (پیل، شروع، برید):**

چنارګل په کال ۱۳۷۲ لمریز(شمسي) کې د ننګرهار ولایت مرکز، جلال آباد ښار کې سترګې دې نړۍ (دنیا) ته وغوړوي.

هغه اصلي (اصلاً) د لوګر ولایت وو، خو کورني یې د مجاهدینو خپل منځي جګړو کې د لوګر نه جلال آباد ښار ته، کډه شوي وو.

هغوی د کابل ولایت شاوخوا سیمو مهاجرینو په شان، په یوه کمپ کې ژوند کاوه.

التبه له دوی او نورو مهاجرو کورنیو سره، د ملګرو ملتونو نغدي او خوراکي توکو مرستې کېدې.

هغه لمړي د نورو ماشومانو په څېر په چارغوکو بیا په ودرېدو شو(راغلی).

څه موده نه وه تېره شوې چې په لاره تګ یې پیل کړ.

هغه په ونه جګ و.

د نورو الکانو نه یې قد جګ (اوچت) و، نو ځکه کورنۍ یې ورته چنار ګل ویل.

ورو، ورو هغه په خپلو همزولو کې په چنارګل مشهوره شو، که نه نو اصلی نوم کوم چې په لمړۍ ورځ هغه باندې د کمپ ملا امام ایښی و، عبدالله وه.

چنار ګل لکه چنار ونې په شان لوېده او جګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هغه لږ لوی شو.

په هېواد کې جګړې سرې شوې.

کابل ښار کې هم جګړې لږې شوې.

د هغه وخت جمعیت ګوند و توانېد خپل دښمنان له کابل ښار څخه لرې کړي.

خلک ورو، ورو په بېرته راتګ پیل کړ.

هغوی خپلو ویجاړ شویو کورونو ته، ستانه شوو.

البته یې د خپلو کورونو په بیا رغوني پیل کړ.

څه ناڅه هغوی ته وخت دولت(حکومت)د ټاکلي کمېسون له خوا نغدي مرستې کېدې.

بیا ځینو موسسو د هغوی په ښوونځیو جوړوني پیل کړ.

د ښوونځیو جوړونه په وړیا توګه وه او د اکتېډ د کمېټې له خوا مخ ته تلل.

د هغه کورنۍ هم پریکه وکړه (تصمیم و نیوه) چې کابل ښار ته راشي.

چنار ګل د خپلې کورنۍ سره کابل ښار ته راغی او د کابل ښار نهمې سیمې (ناحې) د دربیم مکرویانونو په بلاکونو کې مېشت شوو.

دوې کاله نور هم تېر شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هغه د ښونځي د تګ شو.

منی تېر بیا ژمی شو.

اوا(هوا) سړه شوه.

واورو په ورېدلو پیل کړ.

هغه به واورو ورېدو ته خوشحالي کوه.

د کوره به واته او د بلاک نورو ماشومانو سره به يې لوبې کوې.

ماشومانو به الته د واورو غونډارې جوړول او یوه بل به يې پرې ویشته.

بیا د سیمې نورو لړ لویو ماشومانو به د واورو نه، د واورو سړی جوړاوه چې په سیمې کې ماشومانو به ورته آدمک برفي ویل.

دا آدمک برفي د سیمې در ژبي خلکو په وینا و.

هغه هم د کور نه ګازره وړه او د واورو سړی ته به يې د پوزې پر ځای ایښوده.

ځینو نورو لړ لویو ماشومانو به ورته خپله خولۍ په سرکوه او دغاړې دسمال به يې هغه ته په غاړې تاړه.

د ورځې به تر ناوخته شاو خوا ګرزېده.

کله ناکله به يې د غرمي ډوډۍ هم له یاده وته.

د کابل سوړ ژمی تېر شو.

پسرلی راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هرې خوا میوه لرونکو ونو او ګلانو په غوړېدو پیل کړ.

نورو ونو پندکونه وکړل.

ښکلي او راز، راز بوټیونه تر سپړمو کېدل.

مرغیو او چونچنو په خوشحالی پیل کړ.

بورا ګان هم له ژمني خوبه نه راويښ او وزرونه یې وغړول.

بیا یې ګلانو د شېرې په خوړلو پیل کړ.

توتکۍ هم د تودو سیمو نه کابل ته راغلې.

هغوی هم له ځانه سره د پسرلي سندري ویلې.

هغوی به د برېښنا پر مزو(لینونو) کښېناستل او اخوا دېخوا به الوتل.

په بیا لو (ویالو) اوختو کې به یې چینجي لټول، هغه به یې موندل او خوړل.

توتکۍ د کورونو پر جوړوني پیل کړ.

ختې به یې راوړې او د انسانانو په کوټو کې به یې ځان ته په ډېرې زيرکتیا سره کوټې جوړوي.

توتکي ډېرې بې آزاره مرغۍ دي.

هیڅ کس (څوک) د هغه ښکار نه کوي.

هغه پر ټولو، ګراني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هغوی کله، ناکله په ښونځیو کې هم جالې جوړوي او لمړی هګۍ بیا وروسته بچي باسي.

کابل کې چې اوا (هوا) ګرمه شي بیا نورو سړو سیمو ته ځي او پر هغوی د پسرلي زېری کوي.

واورو په ویلې کېدو پیل کړ.

د ورې میاشت پیل شوه.

لمړی ورځ یې د نوروز رخصتي وه.

دوېمه ورځ یې د بزګر (کروندګر، دهقان) ورځ او هغه هم رخصتي وه.

بیا درېیمه یې د معارف جشن او رخصتي وه.

پر څلورمې ورځ، ښوونځې پیل شوو.

چنار ګل هم د ښوونځي شوی و.

پلار یې هغه نږدې ښوونځې ته بوته.

هغه یې الته ګډ (شامل) کړ.

بیا یې ورته د شا کڅوړه (بکس)، کتابچې، کلمونه (قلمونه) پنسل، پنسل تراش، او پنسل پاک، واخیست.

هغه ښوونځی ته، تګ پیل کړ.

هغه د ښونځي سره، ډېره مینه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

وختي به پاڅېده، خپل مخ او لاس به يې مينځه، بيا به يې چای ښبنه، کوم چې مور يې ورته په ترموز کې دماوه.

وروسته به يې د ښوونځي کالی اغوستل او د آپارتمان څخه به، واته.

د بلاک نورو کوشنيو (وړو) الکانو سره به، ښوونځي ته، ته.

وختونه تېرېدل او چنار ګل هم لوېده.

هغه د لمړني ښوونځي زده کړې تر ځلورم ټولګي پورې د درېيم مکرويان په ښوونځي کې سر ته، ورسوې.

په ټولګي کې هم ځلورمه شمېره (نمره) و.

بيا کورني يې د هغه ځای څخه کډه وکړه او ارزان قيمت (احمد شاه بابا مېنې) کې مېشت شوو.

الته په يوې لېسې کې ګډ او سه پارچه يې د درېيم مکرويان ښوونځي نه واخيسته او الته يې رسمي زده کړې پيل کړې.

هغه په درېيم مکرويانو کې خوشحاله او بلد شوی و.

الته يې ډېر ملګرې درلول.

هېرول يې ستونزمن کار او وخت ته يې اړتيا درلوده.

نوی تعليمي کال پيل شو.

هغه په ځلورمه ورځ لکه نورو زده کونکو په شان، ښوونځي ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

ښوونځي انګړ ته د ننه شو.

التـه يې د خپل ټولګي پوښتنه وکړه.

يوه ښونکي ترې و پوښتل:

د کوم ښوونځي نه راغلی يې؟

هغه و ويل:

زه د درېيمو مکرويانو، نه راغلی يم.

بيا ښوونکي و ويل:

ته د پنځم ټولګي زده کوونکی يې؟

هغه و ويل:

هوصيب!

بيا يې هغه د پنځم ټولګی سر ښوونکي سره بلد (معرفي) کړ.

سر ښوونکي و ويل:

زما سره، اداريې ته لاړ او ستا نوم به وګورم چې په کوم ټولګي کې دی.

هغه و ويل:

سمه ده!

بيا سر ښوونکی مخکې او چنار ګل ورپسې شو.

دواړه سر ښوونکي خوني (دفتر) ته ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

سر ښوونکی پر خپلې څوکۍ کښېناست او چنار ګل ته یې بلنه ورکړه تر څو د هغه مخ ته، پر څوکۍ کښېني.

چنار ګل پر څوکۍ کښېناست.

سر ښوونکي د حاضرۍ پر نوم لوستلو، پیل کړ.

دوې، درې حاضرۍ یې وکتې.

بیا په څلورمه حاضرۍ کې یې د هغه نوم وموند.

هغه ته یې مخ راواړاوه او و ویې ویل:

ته پنځم دې جیم کې یې.

دوېیم پوړ ته وخیژه الته د ټولګیو پر سر، لوحې دي.

خپل ټولګی و مومه او ځان ته څوکۍ و ټاکه.

چنار ګل مننه وکړه.

هغه د سرښوونکي له خونې نه و وت او بل پوړ ته، پورته شو.

الته یې خپل ټولګی و موند.

بیا ټولګي ته د ننه شو.

ټولګی تش و.

هغه ځان ته یوه څوکۍ و ټاکه او پر هغې کښېناست.

لږ څنډ وروسته، نور الکان هم پیدا شوو.

هغوی هم ځانونو ته څوکۍ و ټاکې او پرې کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

دوې دکيکې لا نه وې تېرې شوې چې ښوونکي هم ټولګي ته ننوت.

الکان ټول ودرېدل.

بیا ښوونکي و ویل:

کښېنئ!

الکان پر خپلو ځایونو کښېناستل.

لمړی ښوونکي ځان وروپېژاند (معرفي کړ) بیا یې زده کونکو ته و ویل:

تاسو هم په وار سره ځانونه معرفي کړئ چې له کومو ښوونځیو نه راغلي یاست.

هغوی ومنه.

په وار سره یې ځانونه، معرفي کړل.

چنار ګل په لمړی ورځ ډېر غلی و.

په خپلو اندیوالانو پسې، خپه شوی و.

په ټولګي کې ټول نوي وو.

هغه ورو، ورو د الکانو سره بلد شو.

بیا یې پر شوخۍ پیل کړ.

هم به یې شوخي کوه او هم به یې سبقونه ویل.

چنار ګل غوښتل چې په ټولګي کې لمړی ځای و لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مينه

.................

هغه به د تختې پر سر سبقونه ويل (تشريح کول) او هم به يې کورنۍ دندې تر سره کوې.

وختونه تېرېدل او هغه په ښوونځي کې مخ ته، ته.

د هغوی کور د ښوونځي نه لرې و.

هغه به په پښوو ښوونځي ته، ته.

په نږدې کوڅو کې د هغه ټولګيوال، نه وو.

هغه خپل پلار ته و ويل:

زما ټولګيوال بايسکلونه لري.

هغوی په وخت ځي او راځي.

زه کله تر ټولو مخکې او يا هم وروسته رسېږم.

ښوونکي پر ما، په غصه کېږي.

کله نا کله مې ټولګي کې هم نه پرېږدي.

د ښوونځي رخصتېدو نه هم، کور ته ژر نه رسېږم.

او(هوا) توده ده.

بيا پلار يې و ويل:

د معاشونونه (تنخواه) به لږ، لږ پيسې زېرمه (ذخيره) کړم او تا ته به پرې بايسيکل واخلم.

هغه د خپل پلار نه، مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

بیا پلار یې ورته و ویل:

تر څو چې پیسې غونډوم، تا ته به دسمال راوړم، ترڅو پر سر یې واچوئ.

چنار ګل و ویل:

سمه ده پلاره!

ورځ تېره او شپه شوه.

چنار ګل د دسمال له پاره ډېر خوشحاله و.

د شپې یې چندان خوب، و نه کړ.

سهار وختي پاڅېد.

مخ او لاس یې ومینځه.

مور یې ورته چای دم کړی و.

هغه چای و څښنه.

د کور جامې (کالي) یې بدل او د ښوونځي کالي یې واغوستل.

بیا یې د ښوونځي کڅوړه شا ته (څټ ته) واچوه.

بوټان یې په پښوو او د خونې و وت.

انګړ کې یې اخوا دېخوا وکتل.

بیا د انګړ دروازې نه و وت.

ورو، ورو ښونځي خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مينه

.................

په کوڅې کې چوپا چوپي (چوپتا) وه.

کوم، کوم کس به په بايسکل تېرېده.

هغه به بايسکل ته کاته.

خو د هغوی بايسکل به يې نه خوښېده.

د هغوی بايسکلونه د لويانو له پاره وو.

په مخ کې به يې کجاوه او تر شا (څټ) به يې کنجغه درلوده.

د هغه نوي ماډل بايسکلونه خوښېدل کوم چې هېواد ته نوي راغلي وو.

د هغو نه به، د شتمنو کسانو ځامنو ګټه اخيسته.

هغه ورو، ورو روان و.

بيا هم د نورو ورځو په شان، لږ ناوخته ښوونځي ته ورسېد.

دروازې کې امنيتی کس پرې غوسه (غوصه) شو او ويې ويل:

ته هره ورځ ناوخته راځې.

هغه ځواب ورکړ:

زمونږ کور د ښوونځي نه، لرې دی.

پلار مې وعده کړې چې ما ته به بايسکل اخلي.

بيا به د نورو زده کونکو نه، په وخت راشم.

امنيتي کس و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

څه وخت تا ته بایسکل اخلي؟

هغه ځواب ورکړ:

پلار مې و ویل چې له معاش نه پیسې غونډوم او تا ته بایسکل پرې اخلم.

کس په خندا شو.

او ویې ویل:

په دری ژبې کې یوه متل دی چې وایي:

بزک، بزک نه موري (مري) که جو لغمان مېرسه.

بیا یې چنار ګل ته و ویل:

زه لاړ شه!

بیا ناوخته را نه شئ.

چنار ګل و ویل:

سمه ده!

هغه ښوونځی ته د ننه شو.

د ټولګي خوا ته لاړ.

د ټولګي دروازه، پورې وه.

هغه دروازې ته نږدې شو.

دروازه یې وټکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

بیا ښوونکي و ویل:

مهربانی!

چنار ګل دروازه خلاصه او ټولګي ته، د ننه شو.

بیا یې دروازه، پورې کړه.

ښوونکي ورته و ویل:

ته هره ورځ ناوخته ټولګي ته راځې.

چنار ګل و ویل:

زمونږ کور له ښوونځي څخه ډېرلرې دی.

بیا ښوونکي و ویل:

پلار ته دې و وایه چې تا ته بایسکل واخلي.

هغه و ویل:

پلار مې زما سره وعده کړې چې تا ته بایسکل اخلم.

بیا ښوونکي و ویل:

سمه ده!

پر ځای دې کښېنه.

هغه مننه وکړه او پر خپل ځای کښېناست.

نږدې غرمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

د رخصتۍ وخت شو.

د رخصتۍ زنګ و وهل شو.

الکانو خپل کتابونه او کتابچې ټولې کړې.

هغه یې په خپلو کڅوړو کې کېښودې.

بیا په وار سره د ټولګیو نه، د ښوونځي انګړ ته و وتل.

الته څه کسان د اوبو اودانو، خواوو ته، لاړل.

څه نور یې د بایسکلونو ځایونو ته لاړل.

خپل بایسکلونو کلپونه (قفلونه) یې خلاص کړل.

خپلې کڅوړې یې د بایسکلونو پر کنجغو ټینګ کړل.

بیا یې بایسکلونه د انډل نه ونیول او ورو، ورو د ښو ونځي انګړ دروازې خوا، روان شوو.

دروازې نه په وتو یې پیل کړل.

هر څوک خپلو کورونو خوا، روان شوو.

چنار ګل هم بایسکلونه ته، کتل.

هغه تمه درلوده چې پلار یې ورته یوه ښه بایسکل وپېري.

هغه په سوچ کې روان و.

بایسکلونه ته به یې، کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مينه

.................

په دې وخت کې پښنه يې پر کوشنۍ تيږې (ډبرې) و نښته او پړمخې وغورځېد.

الکانو منډې کړې.

هغه يې د ځمکې نه، راپورته کړ.

د هغه کالي په خاورو شوې وه.

بيا يې خپل کالي و څنډل.

لاسونه يې هم لږ ګرګري(شوکارې) شوي وو.

بيا يې خپله کڅوړه (بکس، بيک) شا ته (څټ ته) سم او پر لارې روان شو.

څند وروسته، خپل کور ته ورسېد.

انګړ ته، د ننه شو.

لږ په خاورو سپېره و.

مور يې د غرمې ډوډۍ په تيارلو، بوخته وه.

مور ته نږدې او هغې ته يې سلام ورکړ.

مور يې هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا مور يې هغه ته وکتل.

ويې ويل:

کالی دې ولې په خاورو سپېره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

د چا سره خو به دې شخړه نه وي کړې؟

هغه و ویل:

نه مورې!

الکانو ته مې کتل کوم چې به په بایسکلونو سپرېدل او خپلو کورونو خوا، تلل.

زما پښه په تیرې ومښته (و نښته، بنده شوه) او پرمخې وغورځېدم.

وګوره لاسونه مې هم ښوکارې شوي دي.

بیا مور یې هغه د لاسه ونیو او د کوټې نه د باندې شوه.

د اوبو کوزه یې واخیسته، کومه چې د باندې لمر ته ایښودل شوې وه.

د کوزې اوبه تودې وې.

بیا د هغه پر لاسونو یې اوبه واچوې.

وروسته یې هغه ته و ویل:

صبر وکړه.

اوبه واخله او مخ دې هم پرېمنځه.

هغه خپل مخ هم پرېمنځه.

بیا مور یې د هغه مخ او لاسونه، پر خپل تیکري، وچ کړل.

هغه ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

کوټې ته د ننه شه.

الماری نه واسپلین واخله!

خپل لاسونه او مخ دې پرې غوړ کړه.

زه به تا ته ډوډۍ و باسم.

ته به هم وږۍ شوی یې.

هغه و ویل:

هو مورې!

ډېر وږی شوی یم.

چنار ګل کوټې ته د ننه شو.

کڅوړه یې تر شا (څټ) خلاصه او د کوټې په کونج کې یې کېښوده.

واسپلین یې راواخیست او خپل مخ او لاسونه یې پرې غوړ کړل.

بیا پرتوشکې کښېناست.

مور یې د هغه ورور ته غږ او ویې ویل:

دسترخوان اوار کړه.

هغه دسترخوان اوار او مور یې ډوډۍ او کتغ راوړ.

پر دستر خوان یې کېښود.

بیا تولو، د ډوډۍ پر خوړو پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناکامه مینه**

.................

ډوډۍ وخوړل شوه.

بیا مور یې لاړه او چای یې دم کړ.

چای یې کوټې ته راوړ.

بیا یې پر پیالو و وېشه.

چای و څښل شو.

چنار ګل ستړی شوی و.

سر یې پر بالښت کېښود او بیده شو.

پوره دوې ګړۍ ویده شوی و.

بیا له خوبه پاڅېد.

په انګړ کې وګرځېد.

وروسته بېرته کوټې ته ستون شو.

کځوړه یې واخیسته.

کتابونه، کتابچې او کلمونه یې د کځوړې نه، و ویستل او پر کورنۍ دندې یې پیل کړ.

هغه اخته و.

مازیګر شو.

پلار یې هم د کار څخه راغی.

هغه د وعدې سره سم، یوه ښکلې دسمال هغه ته اخیستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

پلار يې کوټې ته د ننه شو.

پر چنار ګل يې غږ کړ.

دا دی ستا دسمال.

ځومره ښکلی دی.

چنارګل له ځایه پاڅېد.

پلار ته يې سلام ور کړ.

پلاريې د هغه سلام ته ځواب ورکړ.

بیا چنارګل د خپل پلار د لاسه، دسمال واخیست.

په دې وخت کې د هغه د پلار پام، د چنار ګل لاسونو ته شوو.

ګوري چې د هغه لاسونه شوکارې شوي دي.

پلار يې ترې و پوښتل.

لاسونه دې ولې شوکارې شوي دي.

هغه خپله د لوېدو کیسه يې پلار ته بیان کړه.

پلار يې خواشینی شو او هغه ته يې و ویل:

ما څه پیسې غونډې کړي دي.

څه نورې به له خپل ملګري نه پور واخلم.

جمعې ورځ هسې رخصتي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

ته هم د جمعې په ورځ رخصت یې.

دواړه به ښار منډیي ته لاړ او تا ته به باسیکل وپېرم (واخلم).

چنار ګل په خندا شو.

د پلار نه یې مننه وکړه.

څو ورځې تېرې شوې.

پلار یې څو روپۍ د خپل نږدې ملګري قدوس خان نه، پور کړې.

جمعه شوه.

بیا سهار په نهو بجو له کوره و وتل.

ښار ته ورسېدل.

بیا د بایسکلونو خرڅلاو منډیي ته ننوتل.

اخوا دېخوا بایسکلونو په لیدو یې، پیل کړ.

چنار ګل تر ټولو لوړ او نوی موډل (ماډل) بایسکلونه، خوښول.

پلار به یې چې د هغه بیې پوښتنه کوه، بیه به یې لوړه او پیسې به یې نه پوره کېدې.

ورځ یې تېره شوه.

بیا پلار یې و ویل:

ستا د خوښې نوي بایسکلونو ته مو وسه، نه کېږي.

ښه به داوې چې یوه استعمال شوی (مستعمله) بایسکل تا ته واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هغه ومنه.

بیا دواړه دوېیم لاس بایسکل خرڅولو ځای (کهنه فروشی) ته لاړل.

الته یې په مناسبه بیه، باسیکل وموند.

هغه یې چنار ګل ته وپېره (واخیست) او کور ته یې راوړ.

چنار ګل پر بایسکل چلولو، نه پوهېد.

پلار به یې هغه ته بایسکل ښوده.

لس ورځې تېرې شوې.

هغه ورو، ورو بایسکل یاد کړ.

لمړی به د خپلو کوڅو بیا ورروسته عمومي واټ ته، واته.

الته به یې بایسکل باندې سپرېده.

هرې خوا به، ګرځېده.

هغه بایسکل پوره یاد کړ.

بیا پلار یې ورته پر بایسکل باندې د مکتب تګ، اجازه ورکړه.

هغه به پر بایسکل ته، او راته.

هغه به بیا په وخت ښوونځي ته، ته.

چنار ګل، پنځم ............نهم، لسم، یوولسم او دولسم ټولګی یې الته بشپړ او سر ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

بیا الته د اقتصاد په برخې کې ځان، کثیرالرشتوی انستیتوت کې ګډ (شامل) کړ.

دوې کاله یې اقتصاد ولوست.

هغه په بریالیتوب سره زده کړې تر سره کړې.

بیا یې د کابل پوهنتون ته، کانکور آزموینه ورکړه.

هغه د کابل پوهنتون یوه پوهنځي ته، بریالی شو.

یوه میاشت تیره شوه.

بیا هغه د نوم لیکنې له پاره، پوهنځي ته لاړ.

نوم لیکنه یې وکړه.

بیا یې څه فورمې واخیستې.

هغه یې ډکې او بیا یې د پوهنځي تدریسي مسول ته، وسپارې.

څو ورځې نورې هم، تیرې شوې.

درسونه پیل شوو.

هغه په ډیرې مینې سره خپل درسونه پیل کړل.

پسرلی و.

د پوهنتون سیمه خورا پاکه او شنه وه.

هرې خوا شنه چمنونه، ګلونه او اوچتې، اوچتې د نښترو ونې ښکارېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

ټول پوهنځي، په یوې لویې سیمې کې شتون درلود.

ټول پوهنتون نه یوه دېوال تاو راتاو و.

پوهنتون درې دروازې درلودې.

د پوهنتون فضا  تر ښوونځیو توپیر درلود.

تر دولسمه د الکانو او انجونو ښوونځي سره جلا وو.

خو په پوهنتون کې داسې نه وو.

الکانو او انجونوبه سره ګډ ټولګي کې سبق ویل.

استادان هم  ښځې او هم نارینه وو.

هغوی هم په یوه دیپارتمنت کې، سره یوه ځای کار کاوه.

چنار ګل له یوه محیط څخه بل محیط ته ننوتی (داخل) شوی و.

څه آزادي وه.

د هغه په ټولګي کې، انجونې هم وې.

هغه الته نور ملګرې و موندل.

یوه یې د ارزان قیمت (احمد شا بابا مېنې) نه د هغه سره مل کېده.

دواړه د کابل پوهنتون زده کړیالان وو، خو پوهنځي یې سره بېل وو.

هغه د زده کړو سره، ډېره مینه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

کله نا کله به خپل تره کور ته، کوم چې په خوشحال خان سیمې کې و، ته.

البته به د جمعې په شپه هم پاتې کېده.

د هغه سبقونه د شپې له خوا وو.

یوه ماښام چې له پوهنځي نه و وت، په زړه یې د تره زوی وګرځېد.

خپل ملګري ته ودرېد له کوم سره چې هره ورځ مازیګر پوهنتون او ماسخوتن ارزان قیمت (احمد شا با با مېنې) ته، ته.

څو دقیقې د پوهنځي سړک مخې ته، ولاړ و.

ملګری یې راورسېد.

بیا دواړو سره روغبړ وکړ.

وروسته بیا سره روان شوو او د پوهنتون انګړ نه و وتل.

چنار ګل خپل ملګري ته و ویل:

ته کورته لاړ او زه غواړم خپل تره کور، کوم چې په خوشحال خان مېنې کې دی، لاړ شم.

ملګري یې و ویل:

سمه ده!

ستا خوښه!

ته البته لاړ او زه به کور ته لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

چنار ګل و ویل:

سمه ده!

بیا یوه د بل سره خدای پاماني وکړه او لارې سره بېلې شوې.

چنارګل موټر ته وخوت او څه ځنډ وروسته خپل تره کور ته ورسېد.

اوا(هوا) تیاره وه.

برېښنا نه وه.

کوڅې تیارې وې.

هغه د خپل جب نه غوږکی (ټېلفون، موبایل) را و وېست.

بیا یې د هغه څراغ روښانه کړ.

په سختیو د خپل تره، کور ته ورسېد.

دروازه بنده وه.

د دروازې شا ( څټ) ته ودرېد.

دروازه یې وټکوه.

دروازې ته د هغه تره زوی راغی.

بیا یې و ویل:

څوک یې؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

چنار ګل یم.

د تره زوی یې دروازه خلاصه کړه.

د هغه سره یې روغبړ وکړ.

بیا یې هغه د مېلمه خونې ته و باله.

دواړه کوټې ته ننوتل.

په دې وخت کې تره یې هم راغی.

چنار ګل له ځایه پاڅېد او هغه ته یې، سلام ور کړ.

بیا د هغه تره، سلام ته یې وعلیکم و ویل.

تره یې ورته و ویل.

پاس پر توشکې کښېنه!

هغه پر توشکې کښېناست.

د تره زوی یې بالښت د هغه شا ته کېښود.

د شپې ډوډۍ یې الته وخوړه.

چای څښلو نه وروسته بیده شوو.

د کورنۍ ډېرې غړي سهار وختی لمانځه ته، پاڅېدل.

لمنځونه یې وکړل.

بیا د سهار چای راوړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

د هغه تره زوی وختی کار ته تللی و.

بیا یې د تره د ښځې نه پوښتنه وکړه:

تره زوی مې چېرې دی؟

هغې و ویل:

هغه په بازار کې هټۍ (دوکان، دکان) جوړ کړی دی.

چنار ګل و پوښتل:

د څه شي او چېرته ده؟

هغې و ویل:

نږدې بازار کې او د کتابونو پلورلو هټۍ ده.

بیا هغه و ویل:

زه الته ځم.

د تره ښځې یې و ویل:

الته لاړ خو د غرمې ته د تره زوی سره دې یوه ځای راشئ.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا هغه له کوره، و وت.

بازار ته لاړ او د خپل د تره زوی هټۍ یې و مونده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

هتۍ ته، د ننه شو.

د خپل د تره زوی سره یې روغبړ و کړ.

د تره زوی یې خوشحاله شو.

بیا یې چنار ګل ته بلنه ورکړه تر څو، پر څوکۍ کښېني.

هغه پر څوکۍ کښېناست.

تره زوی یې هغه ته چای وغوښت.

چای ورسېد.

بیا یې چنار ګل ته، په پیالې کې چای واچوه.

چنار ګل پر چای څښلو پیل کړ.

په دې وخت کې یوه ښکلي انجلۍ هتۍ ته د ننه شوه.

شاو خوا یې د کتابونو په لیدو پیل کړ.

څو دکیکې اخوا دېخوا وګرځېده.

یوه کتاب یې د حقوق په هکله خوښ کړ.

داسې ښکارېده چې د حقوق پوهنځي زده کړیاله وي.

چنارګل د تره زوی ته یې و ویل:

دا کتاب په څو افغانۍ ده؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

راکړه چې دوېیم مخ یې و ګورم.

هغې کتاب ورکړ او چنار ګل ته یې د ستروګو لاندې و کتل.

د کتو سره پر چنار ګل لړزه راغله.

سور اور، پرې بل شو.

هغه ډېره ښکلې وه.

ښایسته د هوسۍ په شان سترګې، اوچته او نرۍ جګه وه.

په دې وخت کې د چنار ګل د تره زوی د کتاب دوېیم مخ ولید چېرې چې لیکل شوې و.

بیه: ۱۵۰ افغانۍ.

بیا هغه ورته د کتاب دوېیم مخ و ښود، چېرې چې د کتاب بیه پرې لیکلې وه.

هغې د خپلې کڅوړې (دستکول) نه بله کوشنې کڅوړه و وېسته او ۱۵۰ افغانۍ یې جلا او هغه ته یې ورکړې.

بیا په موسکا له هټۍ و وته.

چنار ګل د هغې پسې کتې تر کوم ځایه چې، هغه ښکارېده (معلومېده).

څه موده تېره شوه.

هغه انجلۍ د چنار ګل پر زړه کښېناسته.

چنار ګل به هم د هغې سوچ کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

دوې درې ورځې وروسته به الته، ته.

انجلی به هم کله ناکله، راتله.

چنار ګل به هغې ته، کاته.

د چنار ګل تګ راتګ ډېر شو.

بیا هغه د خپل تره زوی ته، و ویل:

زه غواړم له تا سره په دې هټۍ کې ګډ (شریک) شم.

هغه و ویل:

ولې دې ځان ته بېل او په بل ځای کې هټې نه جوړوې؟

هغه و ویل:

لمړی خو زه دومره ډېرې پیسې نه لرم.

دویم، زه د کتابونو په راکړې ورکړې نه پوهېږم.

غواړم چې لمړي بلد بیا ځان ته هټۍ ونیسم.

د تره زوي یې و منه.

هغه یې له ځانه سره ګډ (شریک) کړ.

دی به هره ورځ د پوهنتون نه مخکې الته ته او کوم وخت چې به هغه راتله، د هغې ننداره به یې کوه.

د چنار ګل مینه یوه اړخیزه وه او انجلی نه پوهېده چې هغه پرې مین شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

د یادې انجلۍ خور د چنار ګل سره په یوه ټولګی کې او مور یې د هغه ښوونکې (استاده) وه، خو چنار ګل په دې راز نه پوهېد.

څه موده تېره شوه.

چنار ګل به کوښښ کاوه چې هغه پوی کړي چې، پرې مین دی.

کال تېر شو.

چنار ګل د خپل د زړه خبره هغې ته، وکړه.

هغې و ویل:

ببښنه غواړم.

ته ځان ته کومه بله انجلۍ و ټاکه.

زه نوماندە (نامزد) یم.

چنار ګل د دې خبرې په اورېدو سره سوړ اوسلی و باسه.

لکه پر تودې سکروټې چې سړې (یخې) اوبه واچوی.

چنار ګل څه و نه ویل.

هغه به کوښښ کوه چې انجلی له زړه و باسي، خو نه کېده.

کال بل هم تېر شو.

جلۍ پوی شوه چې نوماند یې بله ښځه لري.

څه موده نوره هم تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

بیا انجلۍ د چنار ګل نه وغوښتل تر څو کوم کس (څوک) و مومي چې د هغې د لیسانس پای لیک ورته، ولیکي.

چنار ګل و ویل:

سمه ده!

زه به یې درته ولیکم.

هغې د خپل پای لیک موضوع، هغه ته ورکړه.

هغه هم په لږه موده کې، د هغې پای لیک چمتو کړ.

چنار ګل د هغې غوږکي (ټیلفون، موبایل) شمېره نه درلوده چې هغې ته خبر ورکړي.

بیا څه موده نوره هم تېره شوه.

انجلۍ راغله او د خپل پای لیک پوښتنه یې وکړه.

چنار ګل په ځواب کې و ویل:

ستا پای لیک، خو خلاص دی.

زما سره ستا شمیره نه وه، چې تا ته مې زنګ وهلی و.

بیا هغه لږ په غصه شوه او چنار ګل ته یې و ویل:

ته درواغ وایې.

ز ستا نه، خپلې مور او خور ته، شکایت کوم.

بیا د هټۍ نه د باندې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

دوې ورځې وروسته هغه د خپلې مور سره هټۍ ته راغله.

چنار ګل ډېر وارخطا شو.

د هغې مور د چنارګل ښوونکې (استاده) وه.

د هغې مور د انجلۍ پای لیک خبره پورته کړه.

چنار ګل و ویل:

پای لیک چمتو دی.

بیا به یې وګورم (مرور کړم) چې کومه غلطي په کې نه وي.

زما سره د انجلۍ شمېره نه وه چې مې هغې ته زنګ وهلی وای.

په دې وخت کې چنار ګل خپلې استادې ته و ویل:

کولای شم، ستا شمېره ولرم.

هغې و ویل:

هو!

اوس دستي.

په دې وخت کې انجلۍ چالاکي وکړه، خپله شمیره یې چنار ګل ته ورکړه او ویې ویل:

پای لیک چې خلاص شو، ما ته زنګ و وهه، تر څو راشم او پای لیک درنه، واخلم.

هغه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مينه

.................

سمه ده!

بيا مور او لور د هتې نه، خوشحاله و وتل.

څه موده تېره شوه.

چنار ګل هغې ته پيغام پرېښود، کوم کې چې يې ليکلي و.

زه د ستا سره مينه لرم.

هغې په ځواب کې وليکل:

ببښنه غواړم.

ما ته داسي پيغامونه مه ليکه!

زه نومانده (نامزد) يم، نومانده.

بيا چنار ګل ورته پيغام پرېښود کوم کې چې يې ليکلي وه.

زه نه غواړم تا ته خنډ (مزاحمت) وکړم.

دا پيغام مې ستا د پای ليک له پاره پرېښود.

بيا يې ډېر وخت پيغام و نه لېږه.

څه موده تېره شوه.

د کرکېټ لوبې پيل شوې.

چنار ګل به د کرکېټ په هکله، مجلسونو ته، ته.

يوه ورځ هغه انجلي هتې ته راغلې او د چنار ګل پوښتنه يې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

د تره زوی یې هغې ته ویلي وه چې:

چنار ګل د کریکېټ سره مینه لري.

اوس د کریکېټ مجلس ته، تللی دی.

هغه د هټۍ نه و وته او چنارګل ته یې پیغام واستوه.

ته چېرې یې؟

زما پای لیک دې څه کړ؟

لمړی ټیلفوني خبرې بیا پیغامونه (مسجونه) سره، پیل شوو.

کال بل هم تېر شو.

هغې د خپل نوماند سره، اړیکې پرېکې کړې.

بیا یې د چنار ګل سره نوې اړیکې پیل کړې.

کله په غوږکي (ټېلفون، موبایل) او کله به یې پیغامونه لیکل.

هغوی به یوه د بل سره د ژوند پرتولو ناخوالو غږېدل او کیسې به یې پرې کوې.

هغوی به تر شلو ساعتونو هم، ډېرې خبرې کوې.

بیا یې هغې ته ولیکل:

زه غواړم له تا سره واده وکړم.

هغې په ځواب کې و ویل:

لږ صبر وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

زه به په دې هکله د خپلې کورنۍ سره، خبرې وکړم.

چنار ګل به هره ورځ هغې ته دا پیغام لیکه.

هغې به په ځواب کې لیکل:

لږ صبر وکړه.

فامیل مې راضي نه ده.

الک د خپلې میني په هکله، خپلې کورنۍ ته خبر ورکړ.

کورنۍ یې هک پک پاتې شوه.

کورني د انجلۍ په هکله، د هغه تره زوی نه وغوښتل تر څو د انجلۍ په هکله ټول او کره معلومات د چنار ګل کورنۍ سره ګډ (شریکه) کړي.

د چنار ګل تره زوی، و منه.

هغه خپلې پلټنې پیل کړې.

څه موده تېره شوه.

د هغه پلټنې پای ته، ورسېدې.

هغه کره معلومات تر لاسه او د چنار ګل کورنې ته یې وړاندې کړل.

د چنار ګل کورنۍ راضي شوه.

بیا چنار ګل و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

زما کورنۍ راضي ده.

څه وخت رايباران ولېږم؟

هغې و ويل:

لږ صبر و کړه.

لږ و خت راکړه.

په دې حالت کې پنځه کاله تېر، شوو.

بيا انجلي و ويل:

اوس زمونږ کورنۍ راضي ده.

کولای شې رايباران راو لېږې.

هغه و ويل:

سمه ده!

دوې ورځې تېرې شوې.

انجلی و ويل:

زما د ورور کوژده ده.

کوژدې نه وروسته، رايباران ولېږه!

چنار گل و ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

ورځ وروسته، روژه راغله.

بیا چنار ګل و ویل:

اوس خو روژه ده.

رایباران به وروسته له روژې، درولیږم.

هغې و ویل:

سمه ده!

څرنګه چې ستا خوښه وي.

د روژې ۲۷ مه ورځ شوه.

د انجلۍ کورني، هغه يې نورو رايبارنو ته، ونومانده (نامزد کړه).

انجلۍ راضي نه وه.

په دې هکله يې خپل راپور، چنارګل ته ورکړ.

هغوی په غوږکي (ټيلفون، موبايل) کې سره خبرې کوې.

څو ورځې تېرې شوې.

چنار ګل هغې ته و ويل:

اوس چې په زوره سره نومانده شوې يې، نه غواړم نور تا ته پيغام پرېږدم.

همدا راز نه غواړم ستا سره په غوږکي (ټېلفون، موبايل) کې خبرې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

په دې وخت کې د چنار ګل پر سترګو کې اوښکې وځرخېدې او نور يې څه و نه ويل.

څه وخت تېر شوو.

هېواد (وطن) کې حالات، ګډ وډ شوو.

امريکايي لښکرو په وتو پيل کړ.

طالبانو د هرې خوا پر ولسواليو او ولايتونو، قبضې ټينګې کړې.

قطعات يوه د بل پسې طالبانو ته تسليمېدل.

طالبانو د دوېيم ځل له پاره، کابل ته ورسېدل.

انجلی هم د خپل نوماند سره، لکه نورو افغانانو په طيارو کې وتښتېدل.

هغوی امريکا ته، لاړل.

اوس الته ښه او آرام ژوند لري.

هغه اوس يوه زوی او يوه لور لري.

چنار ګل به په سوچونو کې ډوب وه.

د هغه کورنی پوهېدل چې هغه په رښتيا مين شوی و.

د هغه د خلاصون له پاره يې هلې ځلې، پيل کړې.

هغه ته يې و ويل:

ستا مينه يوه خوا يا ځانګړې (يوه طرفه) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مینه

.................

ښه به وي چې، هغه انجلۍ له هېره (یاده) وباسئ.

مونږ به تا ته، یوه بله ښکلې او ښایسته انجلي پیدا کړو.

تا به نوماند او کال وروسته به، ستا واده وکړو.

هغه نه منه.

بیا یې په ډېرو خبرو او عذرونه چنار ګل هم نوماند کړ.

کال وروسته یې هغه ته، واده وکړ.

هغه د مینتوب ټولې کیسې، خپلې میرمنې ته، بیان کړې.

اوس چنار ګل یوه ښکلی زوی لري.

خو!

د هغې انجلۍ مینه یې اوس هم لږ، لږ یادیږي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکامه مینه

.................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چي قانون نه شته (کډوډي د افغانستان په معمارئ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٥. مجنون او ګلچين (پښتو ناول)
٣٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
٣٧. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
٣٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)
٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګې کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده ګړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناکامه مينه

.................

٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او انجينيرانو(انجينرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سيدو او عيدو - د کوشنيوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور ميړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينۍ انجلۍ تر نړيدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد پنجم)

٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانی
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسی (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د پوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانی معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناکامه مینه**

................

## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناکامه مینه**

.................

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Failed love

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: Feberuary - March / 2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**